ketabton.com - The Digital Library



غوټۍ وخندل:

ـ دومره خو هم کمزورې نه يم.

ځوان خپلې پايڅې ور پورته کړې، له بېلچې سره لاندې کوز شو ،تياره وه، اوبه سرې وې، ځنګانه ته نه رسېدې.

جانکو په پسته خټه کې بېلچه ننه ايسته، يوه بېلچه، دوې بېلچې، درې بېلچې... بوکه تر نيمايي ډکه شوه، پړى يې وښوراوه، زوروره چيغه په ځاه کې تاو راتاو شوه:

ـپورته يې کړه:

د څرخ د تاويدو غږ پورته شو.

جانکو ځان ځنګ ته کړ، خو بيا يې هم له بوکې څخه د سړو اوبو رابهېدلې يوه نرۍ داره غاړې ته سيخه شوه.

له خټو ډکې دوې نورې بوکې هم د ځمکې سر ته وختې، خو په څلورمه بوکه کې څرخ تاو نه شو، جانکو څو ځله پړى وښوځاوه، چيغه يې کړه:

ـبوکه ډکه ده.

خو بوکه همداسې په اوبو کې پاتې شوه، يواځې د موټر سايکل د درېدو غږ يې واورېد، وروسته يې د حميد وارخطا غږونه په غوږو ننوتل... جانکو په بيړه د ځاه د دېوال په ژور شوي ځاى کې پښه کېښوده، کله چې يې له ځا څخه سر پورته کړ، پښې يې بېسېکه شوې، حميد خپله ميرمنه په غېږ کې اخيستې وه، د کوټې خواته ران و، د غوټۍ سر ځوړند ښکارېده، سترګې يې پټې وې، له خولې څخه يې سپين ځګونه روان ول...

* * *

غوټۍ سترګې رڼې کړې، په کوټه کې يواځې وه، کېناسته، په سر کې يې څرېکه شوه، تندي ته يې لاس ور ووړ، تر سر يې ټوټه تاو وه.

پردې ته يې کونج ورکړ، د ماسپښين سيورى ړنګ و، د ځاه تر څنګ دوې، درې بوکې لنده خټه ښکارېدله.

